PROPERTY OF ACKU

دغه رنګ مو تاسي غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

درس قرآن

هر څوک چې یو نفس د بل نفس له بدل څخه پرته یا یې له فساده په ځمکه کې ووژني نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي او هر چا چې دغه یو نفس ژوندی کړي نو ګواکې ټول خلک یې ژوندي کړي دي.
(المائدة: ۳۲)

درس حدیث

از ابو یحیی صهیب بن سنان رضی الله عنه روایت است که: آنحضرت صلی الله علیه وسلم فرمود: کار مسلمان انسان را به شگفتی و تعجب وا میدارد. زیرا همهء کارش برای او خیر است، و این امر برای هیچکس جز مسلمان ممکن نیست. اگر به وی فراخی و آسانی روی دهد شکر کند، برایش خیر است، و اگر به او سختی برسد هم صبر کند برایش خیر است. (ریاض الصالحین)

شهادت پنځم کال، ۲۲ مه ګڼه، پرله پسې ۲۲۵ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لړم ۷ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ذوالحجه ۲۴ مه د۲۰۱۳ م د اکتوبر ۲۹ مه

د هېواد مشرتابه او زعامت ټاکل ستاسو حق دی

په ټاکنو کې ستاسو له ګډون پرته زعیم نشي ټاکل کېدای، همدا تاسې یاست چې د خپلو رایو په کارولو د خپلې خوښې مشرتابه ټاکئ (انجنیر محمدخان)

د حزب اسلامي ولایتي مسؤولینو، علمای کرامو، مجاهدینو، ځوانانو، ادیبانو، لیکوالو، سپین ږیرو، استاذانو، آغلو خویندو، میندو او د افغانستان ټول مجاهد او قهرمان ولسه!

له هر څه دمخه له الله جل جلاله څخه ستاسې روغتیا، سرلوړي او بریالیتوب غواړم. تاسو ته معلومه ده چې د ورې په ۱۶ مه د هېواد راتلونکی د ولسمشرۍ او زعامت د غوره کولو په موخه عمومي ټاکنې ترسره کېږي. په دې ټاکنو کې ستاسې ګډون ستاسې ایماني او ملي مسؤولیت دی، ځکه چې تاسې د خپلو قانوني رأیو په کارولو سره د خپل هېواد سرنوشت ټاکئ، همدا تاسې کولی شئ چې د خپلو رأی پانو په کارولو سره د ولسمشرۍ دروند پېټی د یو داسې اهلیت لرونکې شخص په اوږو واچوئ چې هغه د افغانستان د خاورې، عقیدې او ولس د خدمت کولو وړتیا ولري، د ټاکنو په دې بهیر کې ستاسې رأی پرېکنده رول لري، نه ښایي خپل رأی عادي وګڼئ او د رأیو صندوقونو ته لاړ نشئ.

پاتې ۳ مخ

نامزد وزیران حکومت برای چهار وزارت معرفی شدند



کابل، رسانه ها:
نامزد وزیران حکومت برای وزارت های امور خارجه، انرژی و آب، معادن و مبارزه با موادمخدر، و والیان جدید لوگر و ننگرهار مشخص گردید.

ادارهٔ امور و دارالانشای شورای وزیران، در خبرنامه ای اعلام کرد که حامد کرزی رییس جمهور، در حکمی مطابق با فقره ۱۱ ماده۶۴ قانون اساسی، نامزدی سه تن را برای سه وزارت منظور کرده است.

در خبرنامه گفته شده که ضرار احمد مُقبل عثمانی به عنوان سرپرست وزارت امور خارجه، محمد عارف نورزی به عنوان سرپرست وزارت انرژی و آب، و محمد اکبر بارکزی به سمت سرپرست وزارت معادن تعیین شده اند.

بقیه در صفحه ۴

معترضو کاندیدانو ته لاملونه ورپه ګوته شوي

د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له خوا پر ورکړل شویو دلایلو قناعت نه لرو او نه په دې برخه کې مورته له وړاندې لازمې لارښوونې شوې وې (ډاکټر فاروق اعظم)

کابل، رسنۍ:
د افغانستان د ټاکنو خپلواک کمېسیون وایي د ولسمشرۍ هغو اعتراض کوونکو کاندیدانو ته یې لاملونه ور په ګوته کړي چې له مخې یې دوی د ولسمشرۍ د کاندیدانو له لومړني نوملړه ایستل شوي دي.
د چارواکو په وینا که له لیسته لرې کړای شوي کاندیدان دغه لاملونه نه مني، کولای شي چې د ټاکنو د شکایتونو کمېسیون ته خپل شکایت وړاندې کړي.

پاتې ۴ مخ

جمع آمد اعضای نخبهٔ حزب اسلامی افغانستان در ولسوالی خاش ولایت بدخشان

اخیراً در ولسوالی خاش ولایت بدخشان تعدادی از اعضای نخبه آن ولسوالی که به نماینده گی از سایر اعضای آن ولسوالی اشتراک کرده بودند، در فضای اخوت و برادری تشکیل جلسه دادند.
محفل با تلاوت چند از آیاتی کلام الله روح بخش الهي توسط قاری امان الله ...

بقیه در صفحه ۴

کتونکي د لندن د درې اړخیزې غونډې نتایجو ته هیله من نه دي

کابل، رسنۍ:
افغان ولسمشرحامد کرزی د افغانستان، پاکستان او بریتانیا د مشرانو په درې اړخیزه غونډه کې برون(د دوشنبې په ورځ)له کابله د لندن پر لور روان شو.
د دې غونډې د اجنډا مهمې مسالې د افغانستان او پاکستان ترمنځ ...

پاتې ۴ مخ

انعقاد مجدد لویه جرگهء مشورتی و امضای پیمان امنیتی با امریکا

فدا محمد فایض

بتاریخ (۱۹ میزان ۱۳۹۲) که جان کیری وزیر خارجهٔ امریکا به کابل آمد، متن تدوین شدهٔ این پیمان را با خود آورده و از رئیس جمهور کرزی خواست که آنرا با عجله امضا کند که بعد از مذاکرات دو روزه کیری با یک عده خواستهای افغانستان موافقت نشان داد و به ادعای رئیس جمهور کرزی، تعهد کتبی بخاطر اجرای آن داده است ولی موضوع مصونیت حقوقی به لویه جرگه موکول شد چون استدلال دولت افغانستان آن بود که این کار بالاتر از صلاحیت دولت و فقط در حیطهٔ صلاحیت لویه جرگه است.

آمدن امریکا و ناتو به افغانستان و باز حضور دراز مدت آن که امریکا و ناتو هر دو خواهان آن اند، با یک نگاه سرسری نمیشود بصورت دقیق ارزیابی شود، این حرف ما نیست بلکه محققین متعدد اروپایی و حتی خود امریکایی بعد از وقایع یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ درین رابطه تحقیقاتی انجام دادند و به دلایل منطقی و مقنع ثابت ساختند، که این کار، کار خود شان بود. استاد مصطفی محمد طحان در رسالهٔ ...

بقیه در صفحه سوم

فساد گسترده مالی، در شفاخانه سردار داوود خان وجود دارد

ماجرای فساد مالی درشفاخانه سردار داؤدخان زمانی مورد توجه رسانه های قرارگرفت که دفتر سرمفتش خاص امریکا برای بازسازی افغانستان (سیگار) با نشر یک گزارش از حیف و میل ۴۲ میلیون دالر در این شفاخانه خبر داد.

کابل، رسانه ها:
کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه ازحکومت میخواهد تا با جدیت ماجرای فساد اداری درشفاخانه نظامی "سردارمحمد داود خان" رابررسی وکسانی که در عقب این قضیه دست دارند مورد پیگرد قانونی قراردهد.
مسوولان این کمیسیون، داکتر موسی وردک رییس صحیه وزارت دفاع ملی را متهم به غفلت و قلیفوی کرده خواستار معرفی وی به نهاد های عدلی و قضایی کشور شدند.

بقیه در صفحه ۴

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

څوک ډېر پړه دي؟

سره لدې نه چې هر افغان د افغانستان خاوره خپله خاوره او خپل پلرنی ټاټوبی بولي، سره لدې نه چې هر افغان خپل هېواد خپل ناموس ګڼي مګر ددې ټولو دعوو باوجود بیا هم ګڼ شمېر یې خپل هغه مسؤولیت ته پاملرنه نه کوي چې ورپه غاړه دي، د یو هېواد هر اوسېدونکی ستر مسؤولیت لري چې له خپل هېواد او ولس سره له خپل ځان نه زیاته مینه او اخلاص وکړي، ځکه چې تر څو پورې هېواد غښتلې، مستحکم او مستقل نه وي اوسېدونکی یې د عزت او وقار ژوند خاوندان نشي کیدلې خو هېواد هله مستحکمه او خپلواکه بڼه خپلولی شي چې اوسېدونکی یې خپل هر څه د خپل هېواد د استحکام، سلامتیا او پرمختګ لپاره وقف کړي، د خپلې خاورې رښتوني خدمتکار او معمار شي، هېچاته اجازه ورنکړي چې په خیرنو سترګو ورته وګوري او تاوان ورته ورسوي. له بده مرغه لیدل کېږي چې زموږ زیاترو افغانانو د خپل هېواد د ورانولو چارې پخپله په لاسو کې نیولې دي او هغه ناوړه کارونه ترسره کوي چې د هېواد د استحکام بنیادونه نړوي، اخر کوم افغان په دې نه پوهېږي چې بې عدالتي، بډې اخیستنه، قوم پالنه، درواغ، غلا، ډاکې، فساد، د خلکو پر مال او سر تېرې، وژنې او ددې په څېر لسګونه نورې شیطاني کړنې د هېواد د تباهۍ او کمزورۍ کېدو بنسټیز علتونه دي مګر بیا هم پخپلو غړېدلیو سترګو وینې چې دا کارونه نه یوازې نالوستې او جاهل اشخاص ترسره کوي بلکې یو شمېر مطرح لوري یې هم په ډېره سپین سترګۍ ترسره کوي. بیا بده لا دا چې هر یو ددې ټولو پړه پر بهرنیانو اچوي، په داسې حال کې چې په دې خبره هغوی خپل ځان ته برائت نشي ورکولې، له پردیو نه ډېره ګیله ځکه نه کېږي چې افغانستان دهغوی نه دی او نه هم هغوی د افغانانو په څېر مسؤولیت لري چې افغانستان آباد کړي، هغوی د افغانانو له ګټې نه خپلو ګټو ته زیات اهمیت ورکوي او خپلې ګټې ترلاسه کوي.

دا به ډېره ناسمه خبره وي چې موږ د خپل هېواد د سمون ټولې چارې د بهرنیانو په اوږو وراچوو، هر څه له هغوی نه وغواړو او د هغوی په تمه کینو. د افغانستان د آبادولو، ښیرازه کولو او استحکام اصلي مسؤولیت زموږ پرغاړه دی، ځکه چې د افغانستان د خاورې اصلي بچیان او وارثان همدا موږ یو، هیچاته اجازه نه ورکوو چې د افغانستان پر یوه لویشت خاوره دعوه وکړي، کله چې خبره همداسې ده او موږ هم افغانستان خپله خاوره ګڼو نو بیا پر موږ ده چې د خپل هېواد قدر او قیمت وپیژنو، له ټولو هغو کړنو څخه په کلکه ډډه وکړو چې د هېواد د وروسته پاتې کېدو، ناامنه کېدو او زمکنۍ بشپړتیا ته د تاوان رسولو باعث ګرځي. دا چې تر اوسه پورې افغانستان له څومره بحرانونو، ستونزو او ناخوالو سره لاس او ګریوان شوې په سلو کې ۹۵ مسؤولیت پخپله د افغانانو په غاړه دی، که افغانانو په واقعي معنا د خپلې خاورې او ولس خدمت کړی وای، په یوه خوله، په یوه غږ او په یوه اتفاق یې د افغانستان د پرمختګ او استحکام لپاره کارونه کړي وای، له خپلمنځیو جګړو، اختلافاتو او نورو فسادونو څخه پرهیز کړی وای افغانستان به لدې بدحالت سره کله هم نه مخامخ کېده، دا چې زموږ د ناقصو کړنو بې احساسیو او بې مسؤولیتونو له کبله دې حال ته ورسېدو نو لدې نه د نجات لاره دا نه ده چې بیا هم پخپلو نیمګړتیاو او نواقصاتو پردې واچوو، بلکې لدې نه د خلاصون سمه لاره داده چې له خپلو تېرو کړنو څخه لاس په سر او له همدې نن نه په بشپړه صداقت، ټینګ عزم او ایمانداري سره د خپلې خاورې او ولس د خدمت لپاره ملا وتړو، یو موټی شو او خپل ټول توان په هېواد کې د پرمختګ، امن او استحکام د راوستو لپاره وکاروو.

یوه اړتیا، یوه موضوع او یو هدف

سید فضل مولا "لټون"

ځینې وختونه داسې پېښې رامنځته شي او یاد راپېښېدو په حال کې وي، چې انسان دې ته اړ کړي، چې لومړی پر خپله ماضي غور وکړي، خپلې ناکامۍ، ناخوالې یا بریاوې یې یوه یوه تر سترګو تېرې شي او بیا د همدغو ستونزو او ناخوالو له لامله تر ډېره د یوې قاطع او رغنده پرېکړې توان له لاسه ورکړي، او کله کله داسې عجولانه او د راتلونکیو حالاتو له څېړنې او ارزونې پرته داسې پرېکړه وکړي، چې پښېماني یې بیا هېڅ ثمره او ګټه هم نه لري.

د سیاست علم یوه داسې هر اړخیزه پوهنه ده، چې ډېره کوچنۍ سهوه یې د جبران لپاره کلونه کلونه زیار او کار ته اړتیا لري، ځکه سیاست دی چې له ټولنې، ملت او ملتونو او همداراز اقتصاد او په اقتصادي علومو پورې مستقیمې اړیکې لري، سیاست دی چې د یوه هېواد د سیاسي، نظامي، اقتصادي، صنعتي، سوداګریز، تعلیمي، ټولنیز او بالاخره په یوه هېواد او ټولنه کې د ټولو اړینو بنسټو د بنسټ ډبرې د سیاسي پلان، مدیریت، تدبر او کاري اړتیاو او وړتیاو پر اساس اېښودل کېږي، چې احساساتو، جذباتو، کورنیو، خانداني، قومي او ژبنیو اړیکو ته پکې هېڅ رول نه ورکول کېږي او که څوک ددغه ډول احساساتو او جذباتو له مخې د سیاست په ډګر کې ګامونه پورته کول وغواړي، ګوندې ځینې ښه بریالیتوبونه یې په برخه شي، ولې په راتلونکی کې یې خطرونه او زیانونه لومړنیو بریالیتوبو په پرتله زر چنده زهرجن او ترخه وي.

زموږ د انقلابي نسل پاتې کسان چې د اسلامي انقلاب له پیله تر ننه پورې د ټولو پېښو او واقعاتو ګواهان یو، دا ډول ترخه حقایق مو پخپلو سترګو لیدلي، لمس کړي مو دي، لوستي، لیکلي او اورېدلي مو هم دي.

که له سر زورۍ او پر خپله خبره له بې ځایه ټینګار نه تېر شو، د افغانستان اسلامي نهضت چې په لومړي سر کې یې د کابل پوهنتون په ساحه کې په ۱۳۴۸ هجري لمریز کال د مسلمانو ځوانانو (جوانان مسلمان) په نامه رامنځته شو، چې ددغه تاریخي پوهنتون استادان او محصلین یې اصلي محرکین او خوځښت ګر وو، دا چې وروسته یې متأسفانه د ځینو لاملونو له لامله بېل بېل نومونه خپل کړل او نه جبیره کېدونکي زیانونه یې ولیدل، جلا خبره ده؛ خو کړنلارې او مقدس اهداف یې یو وو، خو دفترونه او سنګرونه یې جلا جلا وو، او لاغمیزه دا وه چې ښاخونه یې هم سره جلا او د یوه هدف لپاره په بېلو بېلو لارو روان وو.

همدغو د یوه مقدس هدف لرونکیو ګوندونو د بېلا بېلو لارو سره سره زموږ ګران هېواد او هېوادوالو ته د خپلو ککریو د قربانۍ او د زیات و کم دوه نیم میلیونه شهیدانو د سپېڅلو وینو په برکت روسي امپراتوري ړنګه کړه، د ختیځې اروپا د هېوادو له خپلواکۍ، سره یې د مرکزي آسیا مسلمان جمهوریتونه هم له ۷۲ کلنې غلامۍ وژغورل، د کمونېزم نظر یې په ګرده نړۍ کې ماتې وخوړه او د کور، کالي، ډوډۍ شعار بې معنی وګڼل شو؛ ولې زموږ د افغان مقدس جهاد قهرمان ګوندونه د خپلمنځي اختلافاتو له لامله په خپلو اهدافو کې نامراده پاتې شول، د دوه نیم میلیونه شهیدانو وینې، د روسي امپراتورۍ ماتې او د کمونېزم په پولادي پنجو کې ګیر د نړۍ د هېوادونو آزادي د افغان مقدس جهاد له برکته دي.

ولې زموږ هغو سپېڅلیو شعارونو او اهدافونه یواځې دا چې تحقق ونه مینده، لا چې د خپلمنځي اختلافاتو له لامله تړې نوې غمیزې او ستونزې راوزېږېدې، چې تر ټولو سترې یې د ملي اردو، ملي پولیسو او ټولو دولتي ادارو په مکمل ډول له منځه تلل وو، د نړۍ له کوټ ګوټ نه بهرنې مغرض لاسونه مو هېواد ته راوغزېدل، د کلونو کلونو نظامي وسلې الوتکې او تجهیزات مو له منځه ولاړل، په کلیو، بانډو، ولسوالیو، ولایاتو او ان په لویو ښارونو کې مو کوڅه په کوڅه ملوک الطوایفي حاکمه شوه، د هېچا مال او سر په امن نه و، د همدغو تراژېدیو له امله د اسلامي نهضت او په لړه عامه وینا د مجاهدینو زړونه او فکرونه د ترحم او عاطفي پرځای کینې، تربګنې، بغض او حسد ونیول او هېڅېږې او له هېچا د خیر هیله او اسره کېدای نه شوه.

همدغو ګډوډیو د طالبانو تحریک وزېږاوه، که څه هم په ځینې سیمو کې نسبي امن رامنځته شو، خو د مقدس جهاد قهرمانان مو د شر و فساد په نومونو ونومول شول، هېواد او هېوادوال مو په دې آباده او ښېرازه نړۍ کې د ناپېژندګلوۍ او بې ارتباطۍ په جزیره کې واقع شول، طالبانو د خپل دوران په پنځه کلنه دوره کې د ګاونډي هېواد په نفوته هغه څه وکړل، چې په ناآګاهانه ډول مو هېواد د تجزیې او ټوټه کېدو په لور روان و، د نړۍ په کڅه د ترهګرۍ روزنه، پالنه او نورو هېوادو ته لېږدونه له همدې ځایه پیل شوه، په دې پنځه کلنه موده کې مو ستر ستر جهادي شخصیتونه یا له لاسه ورکړل او یا دومره سپک او رسوا شول، چې هغه د چا خبره چا یې سلام ته علیک هم نه وایه.

د همدغو خپلمنځي اختلافاتو له امله د امریکا په مشرۍ د ناټو ټلوالې له یوه اوږده او هر اړخیز پلان سره خپل نظامي ځواکونه افغانستان ته داخل کړل، د طالبانو رژیم یې نسکور کړ، د بن د نیمګړې جرګې او توافقاتو (چې پخپله امریکایي سیاستمدارانو ورته نیمګړې وایي) له مخې د ښاغلي حامد کرزي په مشرۍ لومړی مؤقت حکومت د دوو کلو لپاره منځته راغی او دا دی اوس د ښاغلي حامد کرزي پنځه کلنۍ دوه دورې ریاست هم د پوره کېدو په حال کې دي او د جمهوري ریاست نوې ټاکنې هم د رارسېدو په درشل کې دي، دا چې د ښاغلي کرزي په دولس کلنه دوره کې کوم مثبت او د ملت په ګټه چارې سرته رسېدلي او کومو منفي پدېدو چې په کې رشد موندلی هغه هم د ملت په وړاندې دي، چې که ښه ورته ځیر شو دا منفي پدېدې خدای (ج) مه کړه ډېر په آسانۍ سره زموږ ګران هېواد او هېوادوال له سترو غمیزو او تراژېدیو سره مخامخ کولای شي، چې بیا به یې مخه نیول د هېچا له توانه پوره نه وي.

دا چاره په ګرده نړۍ کې معمول ده چې د ټاکنو پر وخت بېلا بېل سیاسي ګوندونه په ټاکنو کې د بري او اقتدار ته رسېدو له پاره ائتلافونه کوي او دا کار د تېرو دوو دورو ټاکنو راپدېخوا زموږ په هېواد کې هم دود شوی دی که څه هم د تېر ځل په څېر دا ځل هم ډېرو د واک د ترلاسه کولو لپاره داسې ائتلافونه وکړل، چې افکار، نظریات او حتی هیلې او موخې یې سره د ځمکې او آسمان هومره واټن لري، ولې په دې لړ کې یوه ډېره د خوښۍ هیلې راژوندي کوونکې او حتی د ځینو په اند نه باورېدونکې ښه او پرځای پرېکړه او اتحاد هم رامنځته شوی دی، چې هغه د حزب اسلامي افغانستان او د جمعیت اسلامي افغانستان د دوو جهادي افغانستان شموله ګوندونو اتحاد دی، چې د ګران هېواد په ګردو قومونو او سیمو کې ژورې او اغېزمنې ریښې لري، ددغه ائتلاف دریم غړی ګوند د ښاغلي استاد محقق په مشرۍ د وحدت اسلامي ګوند دی، چې زموږ په شیعه مذهبو ورونو کې د پراخ او اغېزمن رول لرونکی دی، د خوښۍ ځای دا دی چې دا درېواړه جهادي ګوندونه دي او په ګران هېواد کې د یوه رغنده او په اسلامي اصولو برابر حکومت غوښتونکي دي.

موږ دغه ائتلاف د خپل ګران هېواد او مجاهد ملت لپاره یو نېک ګام بولو، او له پاک الله (ج) مو غوښتنه او هیله ده چې دغه یوځای کېدل مهالیز نه وي او ګران هېواد ته د سولې، امن، سوکالۍ او ملي وحدت په راوستلو کې په دوامداره توګه ګامونه پورته کړي او د هر ډول اختلاف اچونکیو او توطئه ګرانو په مقابل کې یو وسپنیز دیوال ثابت شي.

د هېواد مشرتابه او زعامت ټاکل ...

(د لومړۍ مخ پاتې برخه)

د هېواد مشرتابه او زعامت ټاکل ستاسې قانوني حق دی او په ټاکنو کې ستاسې له ګډون پرته زعیم نشي ټاکل کیدلې، همدا تاسې یاست چې د خپلو رأیو په کارولو د خپلې خوښې مشرتابه ټاکئ. هر ولس او هر هېواد مشرتابه ته ضرورت لري او د مشرتابه غوره کول د ولس حق دی.

الله جل جلاله پخپل سپېڅلی کتاب قرآن کریم کې خپلو مؤمنو بنده ګانو ته همدا لارښوونه کړی چې تاسې امانتونه (د چارو واګې) هغه چاته وسپارئ چې د هغو د ترسره کولو اهلیت ولري. له شک پرته د هېواد زعامت غوره کول او هغه ته د هېواد د امانتونو دروند پیټې ورسپارل د ګرانو هېوادوالو د رأیو د استعمال پرته ناشونې ده، دا د افغانستان پر مسلمان ولس لازمي ده چې د الله تعالی ددغه امر د ترسره کولو په غرض په ټاکنو کې ګډون وکړي او خپل هېواد ته اهلیت لرونکی او د زعامت په شرائطو برابر شخص په غوره کولو سره خپل دغه ایماني او اسلامي دنده ترسره کړي.

ستاسې رأی ستاسې د ارمانونو د رژېدو ستره ذریعه ده، تاسې کولې شئ د خپلو رأی پانو په کارونه پخپل هېواد کې هغه مثبت انقلاب راولی چې تراوسه وربانديې نه یاست قادر شوي، فلهذا زه پر خپلو ټولو حزبي ورونو غږ کوم چې د رأیو د اهمیت په اړه د ولس ذهنونه روښانه کړي او دېته یې وهڅوي چې د رأی کارتونه ترلاسه او په ټاکنو کې د ګډون لپاره چمتووالی ونیسي، په راتلونکو ټاکنو کې په پوره ذوق او شوق برخه واخلي او خپل هېواد لپاره یو مناسب شخص وټاکي.

انعقاد مجدد لویهٔ جرگهٔ مشورتی و ...

(ادامه از صفحه اول)

... تحقیقیی که بنام ((ماذا بعد أحداث سبتمبر)) نوشته و آنرا بنام مستعار عبدالله الکوشی نشر نموده از روی یک تحقیق علمی ثابت ساخته است که امریکا چندین سال قبل از وقوع حوادث یازدهم سپتامبر ۲۰۰۱ تصمیم به آمدن به افغانستان داشت؛ زیرا بعد از سقوط اتحاد شوروی در نتیجهٔ جهاد مقدس کفرشکن ملت افغان، دیگر جهان بسوی یک قطبی شدن رفت، اروپا هم با همان عظمت تاریخیی که برای خود قایل است، توانمندی مقابله با امریکا را نداشت و کشورهای بزرگ اروپا مانند انگلیس، فرانسه، جرمنی، ایتالیا وغیره در چهارچوب ناتو در رکاب امریکا میدوند، در حالی که بعد از سقوط شوروی و از بین رفتن پیمان وارسا که برهبری شوروی در برابر پیمان ناتو یا پیمان اتلانتیک شمالی بمیان آمده بود، هیچ دلیلی برای بقای این پیمان دیده نمیشود؛ ولی امریکا دوام ناتو را غرض برآورده شدن اهداف استراتیژیک خود در جهان ضرور میداند و از همین جهت آنرا ادامه میدهد، در حالی که اعتماد ذات البینی شان هم از افشا شدن راز تعقیب و ثبت تیلفون سی و پنج رهبر جهان که شامل رهبران کشورهای عضو ناتو نیز میشود، از سوی ((ناسا)) یا ادارهٔ استخبارات امریکا بخوبی معلوم میشود، چنانچه اولاً فرانسه و ثانیاً جرمنی درین رابطه عکس العمل شدیدی از خود نشان داد و امریکا هم رد نکرد که چنین جرمی را مرتکب شده است بلکه حواله به مستقبل داد که چنین امری تکرار نخواهد شد.

بناً امریکا در بین کشورهای غربی و در رأس پیمان ناتو اهداف بخصوص خود را دارد و درین شکی نیست که کشورهای شامل در ناتو هم هر کدام در افغانستان انگیزه ای برای حضور دارد. اکنون که موضوع امضای پیمان امنیتی بین امریکا و افغانستان شاید در مراحل نهایی خود باشد، که با تدویر لویه جرگهٔ مشورتی که کارهای ابتدایی تدویر آن از سوی کمیسیون موظف آغاز شده است، یا جواب تأیید و یا جواب رد خواهد گرفت؛ ولی می بینیم که فشار امریکا درین رابطه با گذشت هر روز بالای دولت افغانستان افزوده میشود که هر چه زودتر باید این پیمان از سوی افغانستان با امریکا امضا شود. بتاریخ (۱۹ میزان ۱۳۹۲) که "جان کیری" وزیر خارجهٔ امریکا به کابل آمد، متن تدوین شدهٔ این پیمان را با خود آورده و از رئیس جمهور کرزی خواست که آنرا با عجله امضا کند که بعد از مذاکرات دو روزه کیری با یک عده خواستهای افغانستان موافقت نشان داد و به ادعای رئیس جمهور کرزی، تعهد کتبی بخاطر اجرای آن داده است ولی موضوع مصونیت حقوقی به لویه جرگه موکول شد چون استدلال دولت افغانستان آن بود که این کار بالاتر از صلاحیت دولت و فقط در حیطهٔ صلاحیت لویه جرگه است.

خوب، شاید دولت افغانستان هم بخاطر کم کردن بار مسؤولیت و کم کردن فشار امریکا حواله به لویه جرگه داده باشد، ولی بنظر بنده بهتر بود درین رابطه رفراندم صورت میگرفت؛ زیرا آنچنان که ما می بینیم در تأیید وزرای پیشنهادی صدای اعتراض بالای معامله گریهای پس پرده بلند میشود. بهمین ترتیب برای امریکا دشوار نیست این کار را با عده یی که حتماً در انتظار امضای این پیمان اند و برخی شاید وابستگیهای مختلفی با امریکا داشته باشند، پس تعداد آنهایی که این موضوع را از دیدگاه منافع ملی می بینند و موقف ملی می گیرند آنقدر زیاد نباشد، و باز این لویه جرگه یک لویه جرگه مشورتی است و صلاحیت فیصلهٔ الزامی را ندارد.

این که علاوه بر اعضای شورای ملی و نمایندگان شوراهای ولایتی دیگر چه افرادی به این لویه جرگه فرا خوانده میشوند بعداً معلوم خواهد شد، چون در لویه جرگهٔ قبلی حتی والیان نیز اشتراک داشتند که طبعا به مذاق دولت سخن می گفتند، در آن لویه جرگهٔ مشورتی در مورد پایگاه های مربوط به امریکا هم سخن گفته شد و به دولت مشورت داده شد، چنانچه حضرت صبغت الله مجددی رئیس تدویر لویه جرگه مشورتی آینده نیز درین رابطه به صراحت گفت که من به رئیس جمهور گفتم که دیگر نیازی به تدویر این لویه جرگه نیست، ولی بالای من فشار آوردند و من هم در روزهای اخیر مسؤولیت ریاست آنرا پذیرفتم.

بهمه حال لویه جرگهٔ مشورتی تدویر خواهد شد، چنانچه کارهای ابتدایی آن آغاز شده است؛ ولی حرف من با اعضای این لویه جرگه است و بعداً به شورای ملی کشور، گرفتن هر نوع تصمیم عجولانه درین رابطه یا زیر فشار قرار گرفتن یا زیر بار تطمیع رفتن و یا هم قضاوت نادرست و غیر واقعبینانه کردن درین رابطه به هیچوجه بخشودنی نخواهد بود. این مسأله، مسألهٔ ساده نیست، مسلما علاوه برآن که کمر افغانستان زیر این بار خمیده خواهد شد، عوارض جانبی هم دارد، چنانچه در همین روزها از سوی معاون یک ولایت جنوب غرب تسلیح چندین صدجنگجو جدیداً از سوی یک کشور همسایهٔ ما ادعا شد، خبرهایی هم از خرابی بیش از پیش اوضاع امنیتی یک عده ولایات غربی و مهاجر شدن برخی از ساکنان آن ولایات، به ولایت هرات، نشر شده است؛ این کدام حرف پوشیده نیست، پاکستان، ایران، روسیه و دیگر کشورهای منطقه عدم رضایت خود را به ارتباط حضور دراز مدت امریکا در افغانستان اظهار کرده اند و این اظهارات تنها در حرف باقی نمی ماند، مسلماً که عکس العملهایی هم درین رابطه وجود خواهد داشت، یوسف رضا گیلانی صدراعظم پیشین پاکستان باری با لوی درستیز، رئیس استخبارات نظامی، وزیر داخله و وزیر خارجهٔ خود به افغانستان آمد و از رئیس جمهور افغانستان خواست که از امریکا فاصله بگیرد و برخی از کشورهای منطقه حاضر اند که جای خالی امریکا را غرض همکاری با افغانستان پر کند، موصوف آمادهٔ دادن هر نوع تضمین بود که از سوی افغانستان پذیرفته نشد، هکذا رئیس جمهور پیشین ایران در داخل ارگ بعد از ملاقات با رئیس جمهور افغانستان طی کنفرانس مطبوعاتیی ابراز داشت که از سوی صاحبنظران افغان به عنوان مداخله در امور داخلی افغانستان توصیف شد، هکذا سفیر ایران در ملاقات با رئیس مشرانو جرگه نگرانی کشور خود را از بابت امضای پیمان امنیتی با امریکا ابراز داشت که این موضوع سرو صداهای زیادی را در حلقات رسانه ای ایجاد کرد. بهمین ترتیب علاقه مندی روسیه بخاطر همکاری با افغانستان، علاقه مندی هند، چین وغیره دال بر آن است که ازین امر جلوگیری شود، گرچه افغانستان بحیث یک کشور مستقل التزام پذیرفتن خواهشات این کشورها را ندارد و فقط وظیفه دارد تا به این کشورها اطمینان دهد که خاک افغانستان هیچگاه علیه آنان به نفع امریکا به کار گرفته نخواهد شد، ولی سوال این است که این اطمینان تا چه حد میتواند قناعت آنها را فراهم کند؟

بعد از امضای این پیمان ما حتماً شاهد تشدید مزاحمتها از سوی کشورهای منطقه خواهیم بود، در صورتی که در دوازده سال گذشته بدون دو سال اول یعنی از سال ۲۰۰۳ تا اکنون ما شاهد ناآرامیهای روز افزون در کشور خود بودیم، در حالی که امریکا بشمول کشورهای ناتو و برخی از کشورهای خارج از ناتو در افغانستان حضور داشتند؛ ولی این مزاحمتها تشدید شد و کم نشد پس در آینده چه تضمینی وجود دارد و آن هم در حالی که امریکا تا حد ممکن از سپردن تعهد به ارتباط یک سلسله شرایط که برای افغانستان حیاتی است، شانه خالی میکند، که این مزاحمتها ادامه نخواهد یافت و شدت بیشتر کسب نخواهد کرد و دولت آیندهٔ افغانستان با چالشهای بیشتر از امروز مواجه نخواهد بود، آنانی که چشم بسته علاقه مند امضای این پیمان اند باید اولاً با درک یک مسؤولیت ملی منافع امضای پیمان امنیتی را یک سو بحساب آرد و زیانهای آنرا سوی دیگر و باز هر دو را مقایسه کند. که منافع آن زیاد است یا اضرار آن؟ از سوی دیگر سیاست معمول در جهان هم بر پایه های چیزی بده و چیزی بگیر استوار است پس باید این بده و بگیر هم مقایسه شود و بعدا منافع افغانستان در آن سنجیده شود و تصمیم گرفته شود.

بیوگرافی مختصر قوماندان عبدالقادر مصلح

مرحوم قوماندان عبدالقادر مصلح فرزند کرنیل داداخان و برادر آمران شهید هر یک قاضی عبدالغنی خان مرحوم و مولانا غلام جیلانی خان مرحوم بوده.

نامبرده در سال ۱۳۳۶ خورشیدی در یک خانواده متدین و علم پرور در قریه کمندوک دره غوت نجراب چشم بدنیا گشود. وی تعلیمات دوره ابتدائی خویش را در لیسه حافظ عبدالمجید نجرابی و تحصیلات عالی را در پوهنځون هوائی کابل به اتمام رسانید. و در چوکات وزارت دفاع ملی و قوای هوایی بصفت افسر تقرر حاصل نمود و بعد از بمیان آمدن نظام کمونیستی توسط رژیم ملحد وقت محبوس گردید و مدتی را در زندان سپری کرد.

بعد از رهائی اش از زندان به صفوف مجاهدین پیوست و جهاد مسلحانه را با سایر برادران در مقابل قشون سرخ ارتش شوروی وقت و دست نشانده های داخلی شان عملاً آغاز و شب ها و روزها را با دیگر مجاهدین در سنگرهای داغ جهاد و مبارزه سپری نمود و بحیث قوماندان عمومی جبهه مجاهدین نجراب ولایت کاپیسا تعیین و رهبری نظامی سنگرهای جهاد را بدون کدام خستگی پیش میبرد و ضربات محکم و دندان شکن را به قوای دشمن وارد می نمود. در حالیکه دو برادرش را پی هم از دست داد، موصوف بعد از استقرار دولت اسلامی مجاهدین در چوکات وزارت دفاع ملی و ځارنوالی قوای مسلح جمهوری اسلامی افغانستان مصروف خدمت به ملت ستمدیده افغانستان گردید. درین اواخر مرحومی برتبه دگروالی بحیث استاد در قوای هوایی مصروف آموزش نسل جوان کشور بود.

بالآخره بتاریخ ۲۶/۷/۱۳۹۲ یوم جمعه حوالی ساعت سه ونیم بعد از ظهر از طرف دشمنان اسلام و مجاهدین در قریه کمندوک دره غوت ولسوالی نجراب ولایت کاپیسا به شهادت رسید و به دیار باقی شتافت.

(انا لله و انا الیه راجعون)

روحش شاد و یادش گرامی باد!

❖❖❖

اینبار برادر دیگری از سنگرداران و از جمع مجاهدان راه حق به کاروان شهدای حزب اسلامی پیوست.

مگو که کشته شدم نشنه حیاتم رفت
جهاد و زمزمه و تسبیح و نشاطم رفت

***

حزین مباش که سروران راه آزادی
همیشه سردهند و رسم شان همین باشد
بدان ای ستمگری که به رگبار می بندی
دمی رسد که ترا خصم جان همین باشد
مجاهدان ز بند و کشتن و شحنا نمیترسند
زتوپ و تانک راکت و ماین ها نمیزنند
اگر به انقتام خالینان دین میکشند ما را
بدون که عاقبت کار شان چنین باشد
نیوش ای پسر که انتقام پدر میگیری
بدان که در این راه چون پدر میمیری
اگر به توطئه دشمنان میکشی ما را
بدان که آتش رگبار را به تن میگیری
به پاس ملحدان کفر و کمونیست مکش ما را
بدان که عاقبت امر بی ثمر میمیری
مجاهدان حیات اند و نام شان باقیست
تفنگ و شمله و شمشیر و جام شان باقیست
اگر براه حق میکشند و یا میمیرند
جهاد و منبر و توحید و کامشان باقیست

(تورن غلام سخی)

د ملي او اسلامي اهدافو د ساتني لپاره د حزب اسلامي افغانستان خپرونه

اونيزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

خپرونکی اداره د حزب اسلامي افغانستان فرهنگي څانگه
د امتياز خاوند حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدير عبدالله "کامه وال"
مرستيال مدير عبدالخليل "خليل"

د اړيکو شمېرې
دفتر ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدير ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
مرستيال مدير ۰۷۷۲۲۷۵۷۸۳

• د شهادت اونيزه د هر ليکوال او د نظر خاوند د ليکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونيزه حق لري چې د ليکوال ليکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د ليکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالېږل شوې مطالب نه مستردېږي - بوازې سرليکنه د شهادت د اونيزې رسمي نظر دی

ډيزاين: خواجه وحيدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب طفر بلاکونو شاته، خوشال خان مېنه، کابل | Email Add: shahadatnews_kabul@yahoo.com

شهادت پنځم کال، ۲۲ مه گڼه، پرله پسې ۲۲۵ مه گڼه سه شنبه ۱۳۹۲ هـ ل د لړم ۷ مه د۱۴۳۴ هـ ق د ذوالحجه ۲۴ مه د۲۰۱۳ م د اکتوبر ۲۹ مه

کاپیتولاسیون (مصوئنیت قضایی)

مرتب کننده: تورن غلام سخی

از کلمهٔ لاتینی Capitulare به معنی ((شرط گذشتن)) در لغت بمعنای سازش و تسلیم است و برقراردادهای اطلاق می شود که به موجب آن اتباع یکدولت در قلمرو دولت دیگر مشغول قوانین کشور خود می شوند و آن قوانین توسط کنسول آن دولت در محل اجرا می شود. به همین جهت آن را در فارسی (حق قضاوت کنسولی) نیز گفته اند. این قراردادها اغلب میان دولت های اروپایی با دولتهای آسیایی و افریقایی بسته می شد.

یا به عبارهٔ دیگر قراردادی که با دشمن بسته شود راجع به شرایط ترک مخاصمه یا تسلیم یا صرف نظر کردن از آخرین جنگ قطعی حق قضاوت کنسولی برای یک دولت در کشور دیگر حقی که برای اتباع دولت یگانه در کشور مقرر شود که در محاکم مربوط بدولت خودمحاکمه شوند، آنرا مصؤنیت قضایی و یا کاپیتولاسیون می گویند.

زیرا اروپائیان دادگاه ها و مؤسسات قضایی این کشورها را قادر به حمایت کافی از اتباع خود نمی دانستند. کاپیتولاسیون در قرن بیستم رفته، رفته بر افتاد. نخستین کشوری که کاپیتولاسیون را لغو کرد جاپان بود (۱۸۹۹)، سپس ترکیه (۱۹۲۳)، تایلند (۱۹۲۷)، ایران (۱۹۲۸)، مصر (۱۹۲۷) و چین (۱۹۴۳) آن را لغو کردند و امروز جز در چند مورد استثنایی کوچک مانند کشورهای مسقط و عمان در جایی دیگر وجود ندارد.

نامزد وزیران حکومت برای چهار ...

برپایهٔ خبرنامه، این سه تن به زودی به عنوان نامزدان حکومت برای گرفتن رای اعتماد، به ولسی جرگه معرفی خواهند شد.
معرفی این وزرا بعد از آن صورت گرفته که زلمی رسول وزیر امور خارجه، برای انتخابات ریاست جمهوری آینده نامزد گردیده و از سمتش استعفا داده است.
محمد اسماعیل وزیر انرژی و آب نیز استعفا نموده و به حیث معاون اول عبدالرب رسول سیاف نامزد انتخابات ریاست جمهوری، تعیین شده است.
همچنان وحیدالله شهرانی وزیر معادن، به حیث معاون قیوم کرزی نامزد دیگر انتخابات تعیین گردیده است.
هنوز به جای انوارالحق احدی وزیر تجارت که با استعفای خود، نامزد انتخابات ریاست جمهوری شده و از لیست کاندیداها حذف گردیده است، کس دیگر معرفی نشده است.
در عین حال، یک منبع موثق درحکومت به آژانس خبری پژواک گفت که عبدالمالک صدیقی معین وزارت سرحدات و قبایل نیز به عنوان سرپرست وزارت مبارزه با موادمخدر تعیین شده است.
به گفتهٔ منبع، محمد حلیم فدایی والی سابق میدان وردک، به حیث والی لوگر و محمد گلاب منگل والی سابق هلمند به سمت والی ننگرهار منصوب گردیده است.
این درحالی است که گل آغا شیرزی والی سابق ننگرهار، برای انتخابات ریاست جمهوری نامزد شده است.
فدایی، بعد از آن به حیث والی لوگر منصوب شده که ارسلا جمال والی سابق لوگر، در روز اول عید قربان بر اثر انفجار در مسجد جامع آن ولایت، جان باخت.

جمع آمد اعضای نخبهٔ حزب ...

یک تن از برادران جوانان حزب اسلامی آغاز یافت.
بعداً برادران مربوط به حزب اسلامی این ولسوالی در رابطه به ائتلاف و همبستگی اخیر حزب اسلامی افغانستان و جمعیت اسلامی و کاندیدای محترم داکتر عبدالله عبدالله به ریاست جمهوری و معاونیت اول برادر محترم انجنیر محمدخان، معاون حزب اسلامی افغانستان بحث های همه جانبه نموده، پشتیانی کامل خویش را اعلان داشته و آن را یک گام نیک، اسلامی و مثمر در جهت استحکام پایه های اخوت و برادری جمله مسلمین در افغانستان خواندند و وعده سپردند تا در این زمینه از هیچ نوع فداکاری و از خود گذری دریغ نکنند.
در این گردهمایی تعدادی از برادران حزب سخنرانی کردند که بیشترین محتوای سخنرانی شان را در مجموع این مطالب تشکیل میداد: افغانستان یک کشوریست که جدیداً مراجعه به آرأ عامه و انتخابات را تجربه میکند، بدون شک یک تعداد از احزاب کمونیست و سیکولر در پهلوی احزاب و تنظیم های اسلامی در افغانستان نیز ثبت و راجستر شده اند، که زود و یا دیر در مقابل مسلمانان هم دست و یک پارچه میگردند، چه جای خوشبختی و کامگاری برای جمله مسلمانان افغانستان است که حزب اسلامی افغانستان، با درنظرداشت سیاست اسلامی، معقول و درست خویش با جمعیت اسلامی افغانستان همبستگی و برادری خویش را اعلان داشته و جهت ساختن یک حکومت اسلامی دست های خویش را با هم می فشارند، بدون شک اتحاد و همبستگی جمله تنظیم های واقعی اسلامی افغانستان ضربه ایست محکم، کوبنده و مرگبار بر پیکر نیمه جان و بی روح کسانیکه معتقد به یک قدرت ماوراء لطبیعه نیستند و همیشه بر ضد اسلامی بی شرمانه در حمایه کشورهای خارجی و غیراسلامی عمل کرده اند، بعداً برادران حزب اسلامی این ولسوالی روی یک سلسله مسایل حزبی و اسلامی از جمله تشکیلاتی، جلب و جزب جوانان، تربیه روحیه اسلامی و آموزش جوانان تصامیم همه جانبه صورت گرفتند.
محفل در فضای اخوت، صمیمیت و برادری با دعای خیرو فلاح، بوجود آمدن یک حکومت اسلامی، پیروزی مسلمانان در افغانستان و نابودی کفر و الحاد و تامین صلح، امنیت و همبستگی هر چه بیشتر مسلمانان پایان یافت.

معترضو کاندیدانو ته لاملونه ...

خو د ولسمشرۍ د کاندیدانو له نوملړ لېرې شوي یو شمېر کاندیدان د ټاکنو د کمېسیون لاملونه د قناعت وړ نه بولي.
له کابله خوشحال تایب په راپور کې ویل شوي، چې د ولسمشرۍ ټاکنو له نوملړه ۱۶ لېرې کړای شویو کاندیدانو او د هغوی استازو د دوشنبې په ورځ د ټاکنو د خپلواک کمیسیون له غړو سره له دغه نوملړه د دوی د لېرې کېدو پر سر خبرې او بحثونه وکړل.
لېرې کړای شویو کاندیدانو د ټاکنو خپلواک کمیسیون ته ۴۸ ساعته وخت ورکړی وو چې د ولسمشرۍ د کاندیدانو له لومړني لیسته د دوی د ایستلو لاملونه ورپه گوته کړي،
په لیکلې بڼه لاملونه په گوته شوي.
د ټاکنو د خپلواک کمېسیون ویاند نورمحمد نور په وینا دوی هر کاندید ته له نوملړه د ایستلو لاملونه په لیکلې بڼه ورکړي دي؛
" تر ډېره حده د دوی غبرگون مثبت وو. دوی وایي پر دې نه دي خبر چې لومړني لیست ته یې لار نه ده موندلې، خو وایي وړاندې تر هغه چې دغه معلومات له رسنیو سره شریک کړای شي باید دوی ته خبر کړل شوي وای. دوی دا هم وویل چې په قانون کې ستونزې شته چې د ټاکنو خپلواک کمېسیون هم ورسره هم نظره وو. "
ښاغلي نور وایي د ټاکنو خپلواک کمېسیون په ټوله کې هغه کسان چې شرطونه یې نه وو پوره کړي د قانون له مخې له نوملړه ایستلي دي. او اوس دوی کولای شي چې د ټاکنیزو شکایتونو کمېسیون ته خپل شکایتونه وړاندې کړي.
د ولسمشرۍ یوه معترض کاندید ډاکټر فاروق اعظم له بي بي سي سره په خبرو کې وویل دوی د ټاکنو د خپلواک کمېسیون له خوا پر ورکړل شویو دلایلو قناعت نه لري او وایي په دې برخه کې له وړاندې دوی ته لازمې لارښوونې نه وې شوې:
"موږ قانع نه شولو، خو د ټاکنو کمېسیون خپل دلیلونه درلودل. زموږ ملگرو د قانو د پېچلتیا خبر وکړه او ویې ویل چې پل صراط یې ترې جوړ کړی دی. داسې ښکاري چې په لومړي لست کې کاندیدانو ته هم په قصدي توگه خای ورکول شوی وي. "
د رپوټونو له مخې د ټاکنو شکایتونو کمېسیون ته گڼ شکایتونه ور رسېدلي او دوی یې هم پر څېړلو پیل کړی دی.
دغه کمېسیون به د ټولو سندونو تر څېړلو وروسته د ولسمشرۍ او ولایتي شوراگانو لپاره د کاندیدانو وروستی نوملړ خپور کړي.
دوی وایي ښایي د کاندیدانو په نوملړ کې بدلون راشي خو د شکایتونو د کمېسیون پرېکړې به وروستي وي او څوک یې نه شي بدلولی.

فساد گسترده مالی، در شفاخانه...

زلمی زابلی رییس کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه به روز دو شنبه به خبرنگاران گفت که موجود فساد اداری بخش صحیه وزارت دفاع را با رکود مواجه ساخته است:
"داکتران را مجبوربه ترک وظیفه کرده، بورسیه خارجه را کاملاً پنهان میکنند، موسسات امداد رسان دربخش صحی اردو را به فعالیت نمیگذارد، داکترانی علمی را به اطراف تبدیل میکند زیرا موافق به تخصص آنان نمیباشد ما میتوانیم اسناد را دراین رابطه تقدیم کنیم."
آقای زابلی افزود که پس ازدریافت شکایات متعدد، هیئتی مشترکی ازوزارت دفاع ملی و کمیسیون موظف شد تا درموردانتهامات وارده علیه داکترموسی وردک تحقیق نمایند.
اما وی میگوید که پس ازچندی وزارت دفاع ملی اتهامات وارده براین داکترنظامی را رد کرد.
شفاخانه، سردار محمد داوود خان عمدتاً از سوی وزارت دفاع ملی افغانستان کنترول می شود و در این شفاخانه بیشتر نظامیان تحت تداوی قرار می گیرند.
ماجرای فساد مالی در شفاخانه مذکور زمانی مورد توجه رسانه های قرارگرفت که دفتر سرمفتش خاص امریکا برای بازسازی افغانستان "سیگار" با نشر یک گزارش از حیف و میل ۴۲ میلیون دالر در این شفاخانه خبر داد.
در گزارش این دفتر به مسایل مختلف چون غفلت در مقابل حقوق مریضان و حیف میل شدن میلیون ها دالر پول مربوط به ادویه جات و لوازم طبی این شفاخانه نیز اشاره شده است.
خواستیم در خصوص اظهارات تازه، کمیسیون سمع شکایات مشرانو جرگه نظر داکتر موسی وردک رییس صحیه وزارت دفاع را داشته باشیم اما پس از تلاش های مکرر موفق نشدیم.
اما وزارت دفاع با پخش خبرنامه اتهامات وارده علیه ریاست صحیه این وزرات را رد کرده و آن را غیر منطقی خوانده است.
دولت وزیری معاون سخنگویی این وزارت نیزدرصحبت با رادیویی آزادی گفت درصورت موجودیت اسناد ومدارک بر علیه افرادی که در فساد دست دارند با جدیت برخورد خواهند کرد:
"اگر بالای روسا، جنرالان، قوماندانان یا هر فردی که در وزارت دفاع ملی متهم به دست داشتن در فساد شناخته شود وزارت دفاع مراعت آن شخص را نخواهد کرد و آنرا به ارگان های عدلی و قضایی معرفی خواهد کرد در صورتیکه اسناد وشواهد برعلیه اش موجود باشد این موضوع را تائید ویا رد کرده نمیتوانم هر کسی که اسناد دارد به وزارت بسپارد ما وعده میکنیم که با تصدیق آن از وظیفه برطرف خواهد شد. "
پیش از این نیز وزارت دفاع ازسوی اداره، عالی مبارزه با فساد اداری در رابطه به عقد قرار داد های این وزارت به میلیون های افغانی اختلاص متهم شده بود.
در همان زمان مسوولان وزارت دفاع گفته بودند که در این خصوص تحقیق می کنند اما تاکنون نتایج این تحقیق معلوم نیست.
در این حال برخی از کارشناسان می گویند که اگر وزارت دفاع جلوی فساد در بخش صحی این وزارت را نگیرد، ممکن بخش عرضه، خدمات صحی به سربازان این وزارت متاثر گردد.

کتونکي د لندن د درې اړخیزې...

د اړیکو پراختیا او د افغانستان د سولې په پروسې کې د پاکستان د همکاریو راجلبول دي.
دا څلورمه درې اړخیزه غونډه ده چې؛ د افغانستان جمهوررییس او د پاکستان او بریتانیا صدراعظمان یې کوي.
خو یو شمېر افغان کارپوهان انتقاد کوي چې؛ افغان ولسمشر دې غونډې ته له ډېرې قوي اجنډا سره نه ده تللی.
لندن ته د جمهور رییس حامد کرزي د پنځه ورځني سفر له پیل سره سم یو شمېر افغان کتونکي وایي، پو لندن کې د افغانستان، پاکستان او بریتانیا د درې اړخیزې غونډې نتایجو ته هیله من نه دي.
دوی وایي چې؛ ولسمشر حامد کرزی دې غونډې ته له ډېرې قوي اجنډا سره نه دی تللی څو د سولې په پروسه کې د پاکستان همکاري راجذب کړي.
د سیاسي چارو یو کارپوه حاجي سید داود وایي چې؛ په دارنگه غونډو کې له گډون مخکې باید ولسمشر کرزي له پاکستان سره په خبرو کې د ترپوالي تولنې ملاتړ راخپل کړی وای.
جمهور رییس حامد کرزی د دوشنبې په ورځ غرمه مهال د یوه جگپوړي پلاوي په مشرۍ لندن ته د پنځه ورځني سفر په هدف روان شو.
د جمهوري ریاست له خوا په خپره شوي خبرپاڼه کې راغلي چې، ولسمشر به د افغانستان، پاکستان او بریتانیا د مشرانو په درې اړخیزې غونډې او د اسلامي هېوادونو په اقتصادي مجمع کې گډون وکړي او له بریتانوي چارواکو سره به دوه اړخیزو اړیکو خبرې هم ولري.
پخوا تر دې د جمهوري ریاست چارواکو ویلي چې؛ په یاده درې اړخیزې غونډې کې به په سیمه کې د سولې او له ترهگرۍ سره په مبارزې، د انتخاباتو په امنیت او د طالبانو د خوښې شوي مشر ملا عبدالغني برادر د ځای ځایگي د معلومولو په اړه خبرې وکړي.
لندن ته په دې سفر کې له ولسمشر کرزي سره په دې سفر کې د ملي امنیت سلاکار رنگین دادفر سپنتا، د مالیې وزیرعمر زاخیلوال، د سولې د عالي شورا رییس، صلاح الدین رباني او د بهرنیو چارو د وزارت سرپرست ارشاد احمدي ملگري دي.
پخوا هم د افغانستان، پاکستان او بریتانیا مشرانو درې واري غونډې کړي، خو د کتوونکو په باور نتیجه یې نه ده ورکړې.
بل خوا یو شمېر کتونکي وایي، بریتانیا غواړي د دارنگه غونډو په وسیله د افغانستان د سولې په پروسې کې پاکستان ته لا زیات رول ورکړي.
د سیاسي چارو یو بل کارپوه محمد اکبر اوریا وایي: "هغه دوه نور هېوادونه چې له افغانستان سره په ناسته کې گډون کوي تر اوسه یې په نړۍ کې د افغانستان په هکله هیڅ ډول مسایل نه دي مطرح کړي.
مثلاً پاکستان تر اوسه نه دی چمتو شوې چې له افغانستان سره په صادقانه توگه مرسته وکړي.
انگلستان هم له هغه وخت چې نه د افغانستان پر ضد مفکوره لرلې تر اوسه پدې نه دې توانیدلې چې هغه بدله کړي، دوی پدې هڅه کې دي چې د سولې پروسې رهبري په راتلو کې پاکستان ته وسپاري."
سره له دې چې افغان حکومت تر اوسه د سولې پروسې په برخه کې د پاکستان صادقانه همکارۍ ته هیله مند دې خو پاکستان تل د افغانستان په مسایلو کې خپلې ژمنې نه دي عملي کړي،
دا چې د افغانستان، پاکستان او برتیانیا څلورمه درې اړخیزه غونډه به په افغانستان کې د سولې راوستلو په برخه کې څومره مرسته وکړي دا به وخت معلومه کړي.